# څوک چې د الله تعالی د کلمې د لوړوالي لپاره جنګیږي هغه د الله په لار کې دی

له ابو موسی رضي الله عنه څخه روایت دی چې: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د یو سړي په اړه پوښتنه وشوه چې د زړورتیا له مخې جنګېږي، او د تعصب له مخې جنګیږي، او د ځان ښودنې له امله جنګیږي، نو له دوی څخه کوم یو د الله په لار کې دی؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «څوک چې د الله تعالی د کلمې د لوړوالي لپاره جنګیږي هغه د الله په لار کې دی».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د جنګیالیو د مختلفو نیتونو په اړه پوښتنه وشوه چې یو څوک د زړورتیا له امله جنګیږي، او یا د تعصب او ملاتړ له امله او یا لدې امله چې په خلکو خپل عزت ومومي او داسې نور، نو کوم یو د الله په لار کې دی؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې هغه څوک د الله په لار کې جنګیالی دی چې له جګړې څخه یې موخه دا وي چې د الله کلمه لوړه شي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2969

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee